**د امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړي استازي یان کوبیش لخوا ګزارش،**

**۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۲۰**

ښاغلی رئیس، د امنیت شورا محترمو غړو،

د ۲۰۱۱ کال کې د بن د کنفرانس څخه وروسته، د بریالي لوړ پوړو غونډو وروستۍ لړۍ د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ اوږدمهاله ملګرتیا یو ځل بیا تعریف او بیا پیاوړې کړ.

په شیکاګو کې د ناټو سرمشریزې، په ۲۰۱۴ کال کې د نړیوال جګړه ایز ماموریت له پای ته رسیدو وروسته د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره قوي ژمنې رامنځته کړي. په کابل کې د آسیا زړه د هیوادونو د وزیرانو ناسته، د استانبول پروسې سیمه ایزې همکارۍ او سیاسي مشورې د لومړیتوب لرونکي باور جوړونې اقداماتو سره، په یو مضبوط ډګر کې کېښود.

په پای کې، د جولای د میاشتې په ۸ نېټه په توکیو کې، افغانستان او د هغې نړیوالو شریکانو د متقابل حساب ورکولو پر بنسټ اوږد مهاله تړون ته د پای ټکی کېښود. د ټولنیز او اقتصادي پراختیا لپاره د ډونرانو سخاوتمندانه ژمنې د افغان حکومت لخوا په ځانګړي توګه د ښې حکومتدارۍ، د فساد پر ضد مبارزه، بشري حقونو او ټاکنو په برخو کې د ژمنو سره مطابقت درلود.

د افغانستان لپاره دوامداره او د وړاندوینې وړ ملاتړ او تمویل د توکیو د دوه اړخیزو موافقه شویو معیارونو په پوره کولو او د باور وړ پرمختګ پورې اړه لري. مرستندویانو په خپل وار سره نه یوازې د تمویل کچې ته ژمن دي، بلکې د پیسو د مصرف کولو څرنګوالي ته هم ژمن دي. دا درک شو چې مرستې باید د حکومت سیستمونه پیاوړي کړي. دا د ملګرو ملتونو پر کورنۍ باندي هم پلې کیږي.

همدارنګه موږ د ګډې څارنې او همغږۍ بورډ د بیا ژوندي کولو ته، د یو ښه او زیات اغیزمن فورم په بڼه، هم ژمن یو ترڅو د توکیو د کاري چوکاټ څخه ناشي شوی د پر مخ بیولو او څارنه کې د متقابل حساب ورکونې ډاډ ترلاسه شي.

زه لدې کبله چې ولسمشر حامد کرزي کورنې اصلاحات زيات کړي، هڅول شوی يم په ځانګړي توګه د فساد په وړاندې مبارزه، د حکومتدارۍ سيستمونو پياوړتيا او همدارنګه بريالي سياسي ليږد پروسه يې د راتلونکو دوو کلونو لپاره د خپل اجنډا په مرکز کې ځای پر ځای کړی دی.

ښاغلی رئيس،

لکه څنګه چې د ايساف او افغان چارواکو لخوا راپور ورکړ شوی دی، نظامي کمپاين او د امنيت ليږد پروسې، دواړه پر خپل وخت او مسير کې روان دي.

د عمومي منشي راپور د ۲۰۱۱ کال په پرتله د مې او جولای د مياشتو ترمنځ موده کې، په امنيتي پيښو کې د کمښت ښکارندوی دی.

خو د دې سره سره بيا هم په ټول افغانستان کې ډيری عادي وګړي او حکومتي چارواکي په افغانستان کې د ماتيدونکې امنيت دوامداره وضعيت، هغه ويره او ناامنۍ ته اشاره کوي کوم چې ورځني ژوند د خنډ سره مخ کوي.

حتی چيرې چې وسله والې نښتې نه وي، د ډارولو او هدفي وژنو يو بې رحمه کمپاين د حکومتي چارواکو، د ښځو د حقونو فعالينو، قومي مشرانو او د ټولنې مشرانو ژوند اخلي، د هغو کسانو په ګډون چې په فعاله توګه د سولې لپاره کار کوي. په دې ربع کې د وژل شويو ډيری کسانو څخه يوازې دوه يې د لغمان د ښځو چارو د رياست مشره، حنيفه صافي، او د غزني د ولايتي شورا رئيس، قاضي صاحب شاه وه. ناامني يوازې د طالبانو او نورو حکومت ضد عناصرو لخوا نه راځي، بلکې د تباه ګرو وسله والو ډلو او مخدره توکو کړيو لخوا هم رامنځته کيږي.

اغيزې د پراختيايي پروګرامونو او بشري مرستو په محدود شوي چاپيريال کې ليدل کيږي. د هيواد په ډيری برخو کې د دولتي خدماتو او پرسونل لاسرسی محدود دی.

داخلي بې ځايه کيدنه مخ پر زياتيدو دی، خلک د ولايتي او حوزه وي مرکزونو څخه نسبتاً خوندي ځايونو ته خوځيږي.

د ملکي وګړو مرګ ژوبله هم د کال په لومړيو اتو مياشتو کې د تير کال په پرتله په ټوليز ډول سره کمه شوې ده. خو دغه رجحان د روان اوړي په جريان کې بيرته راګرځيدلی دی، چې د تير کال د ورته مودې په پرتله د جولای او اګست په مياشت کې د ملکي وګړو د مړينې او ټپي کيدو شمير ډير شوی دی. په حقيقت کې د

اګست میاشت د ملکي وګړو لپاره دوهمه خونړۍ میاشت وه له هغه مودې څخه چې یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې قضیو ثبت پیل کړی دی، چې ۳۷۴ ملکي وګړي پکې وژل شوي او ۵۸۱ تنه نور ټپیان شوي دي.

د حکومت ضد عناصر د اوړي په موده کې د ټولو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ٪۸۵ څخه ډېرو پېښو مسؤلیت په غاړه لري، چې د اوړي په موده کې یې ترسره کړي دي.

حتی د روژې په مبارکه میاشت کې، د تاوتریخوالي څخه ډک او ظالمانه کړني تر سره کړي چې د هلمند په ولایت کې د سرونو پرې کول هم پکې شامل و. په دې میاشت کې، د سپتمبر د میاشتې په ۴ نېټه په ننګرهار کې د جنازې په مراسمو کې بمي چاودنې لړتړلړه ۲۵ کسان ووژل او په کابل ښار کې د سپتمبر د میاشتې په ۸ نېټه د ایساف مرکزي دفتر ته نږدې یو بل بم د یو تنکي ځانمرګي بریدګر په واسطه ماشومان ووژل. د ملکي وګړو دا ډول هدفي وژنې د تېر کال د مقدسې میاشتې په پرتله د روژې په میاشت کې دوه چنده زیاتې شوې.

د یاغیانو مشران په عامه توګه د ملکي خلکو د ژوند د درناوي غوښتنه کړې ده. که څه هم د داسې پېښو تاکتیکونه او موقعیتونه د افغانستان د اتباعو په وړاندي دوامداره بې پروایي ښکارندوي دی. د ګڼه ګوڼې څخه ډک بازارونو، جوماتونو، واده او جنازو مراسمو کې د بمونو کارول هیڅ ډول نظامي هدف نګنل کیږي. یوازې تیره سه شنبه یوې ښځینه ځانمرګي بریدګره ۸ سویلي افریقایانو په ګډون ۱۲ ملکي وګړي هم ووژل، چې د راپورونو پر بنسټ په متحده ایالاتو کې د جوړ شوي اسلام ضد فلم د غچ اخیستلو په موخه تر سره شوي دی.

له بلې خوا، هوايي بریدونه د حکومت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو اصلي لامل دی. په دې وروستیو کې پنځه ښځې او دوه نجونې په لغمان ولایت کې د سپتمبر د میاشتې په ۱۵ نیټه په هوايي عملیاتو کې ووژل شول. ایساف د پیښې مسؤلیت ومنل، او ویې ویل چې مړینې اتفاقي دي او پدې اړوند یې تحقیقات پیل کړي دي.

په ورته وخت کې حکومت پلوه نظامي ځواکونه د خپلو عملیاتو په پایله کې د وژل شویو او ټپیان شویو ملکي وګړو د کچې کمولو کې ځینې پرمختګونه کړي دي. نړیوالو نظامي ځواکونو سږ کال د تیر کال د ورته مودې په پرتله په هوايي بریدونو کې د وژل شویو او ټپي شویو ملکي وګړو شمیر کې ۶۲ سلنه کمښت ښکاره کړي دي.

ما پدې وروستیو کې د کونړ ولایت څخه لیدنه وکړه چې له پاکستان سره ګډه پوله لري. هلته ما د پولې هاخوا د انداختونو له امله د ملکي وګړو د اندیښنو په اړه معلومات ترلاسه کړل. بشري نهادونه د اپریل د

میاشتې راهیسې د کنړ له سرحدي ولسوالیو څخه ګاونډي ولایت ننګرهار ته بې ځایه شویو ۷۰۰ څخه زیات کورنۍ، چې شاوخوا ۴۰۰۰ کسان و ثبت کړي دي. زه له دې امله خوښ یم چې مې اوریدل چې د افغانستان او پاکستان چارواکي لا دمخه د دې وضعیت او د هغې د اصلي لاملونو د حل په موخه په څو اړخیزو خبرو اترو کې بوخت دي.

ښاغلی رئیس،

د هېواد په بیلابیلو سیمو کې د طالبانو په وړاندې د ولسې پاڅونونو راپورونه یو نوی پرمختګ دی چې ستر تحلیل ته اړتیا لري. د دریو لسیزو شخړو په جریان کې د تاوتریخوالي عوامل او محرکونه پیچلي شوي دي په داسې حال کې لوبغاړي او د دوی تړلتیا سیال دي. د امنیت او عدالت لپاره د سیمه ایزو ټولنو لیوالتیا دوي یې دې ته اړ ایستلي چې وضعیت تر خپل کنټرول لاندي ولري. دا ګواښ هم شتون لري چې حتی امنیتي چاپیریال لا زیات ټوټه شي.

د دې سیمه ایزو شخړو زیاته برخه د طالبانو په وړاندې مقاومت ښکاره کول دي او حتمي نه دی چې د حکومت د ستر شتون لپاره ملاتړ چمتو کړي. په پای کې حکومت باید د حل لاره وي، په ځانګړې توګه د سیمه ایزې حکومتولۍ او د قانون د حاکمیت د ښه والي له لارې، ترڅو ځایي وګړي دولتي جوړښتونه تجربه او د خدماتو وړاندې کولو وړتیا لا زیات کړي.

د سیمه ایزو دفاعي نوښتونو دوامداره وده باید د ښه تذکیې اغیزمن سیستمونو، د قوماندې او کنټرول روښانه تګلاري او د دولتي جوړښتونو او د قانون حاکمیت سره مل او تړلې وي. سیمه ایزې ټولنې، مدني ټولنې، او د ښځو ټولنې په زیاتیدونکي توګه د ارزونې او تذکیې د میکانیزم د برخې غوښتنه کوي. که چیرې دغه ځواکونه په جرمي فعالیتونو کې ښکیل وي، چارواکي باید سمدلاسه عمل وکړي او په کلکه مجرمین عدالت ته وسپاري.

یو بل بریالی لیږد د توقیف ځایونو انتقال دی چې په لویه کچه پدې پوري  اړه لري چې راتلونکي اداري د توقیف رژیم داسې جوړ کړي چې د بندیانو د بشري حقونو درناوي او خوندي کړي، چې په ځانګړي توګه د عادلانه محاکمې معیارونه او د شکنجې څخه مخنیوي وکړي. زه د ملي امنیت ریاست او د کورنیو چارو وزارت کې پر نوي مشرتابه باندي غږ کوم چې په خپلو ټولو تاسیساتو کې د شکنجې او غیر انساني چلند کړنې مخنیوي په موخه اړین سمونونه پلي کړي.

ښاغلی رئیس،

د داخلي بریدونو وروستۍ لړۍ، د هغه یونیفارم لرونکو افغانانو په واسطه چې خپل نړیوال او ملي همکاران وژني او یا ټپي کوي په پراخه کچه راپور ورکړ شوي. تر اوسه پورې د ایساف ځواکونه خپل ۵۱ سرتیري له لاسه ورکړي، چې دغه شمېره په ټول تیر کال کې ۳۶ تنه وه. زه د افغان چارواکو او نړیوالو ځواکونو لخوا د دې مسلې د حل لپاره د جدي هڅو او اقداماتو څخه خوښ شوی یم. زه د ایساف د هغو هیوادونو لخوا د ښودل شوي پیاوړي او دوامداره ژمنتیا یادونه کوم چې په لزبن او شیکاګو کې موافقه شوې او ستراتیژۍ او مهال ویشونو سره مرسته کوي.

زه د ټولو هغو سرتیرو کورنیو ته خپله خواخوږي وړاندې کوم، د نړیوال او افغان سرتېرو په ګډون، چې د افغانستان او د هغه د خلکو د ښه راتلونکي لپاره یې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

ښاغلی رئیس،

د امنیت لیږد مهم دی. که څه هم د راتلونکي باثباته افغانستان لپاره وروستۍ بریالیتوب کیلي، د افغانان په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت سیاسي لیږد دی.

د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنې د پاملرنې په مرکز کې قرار لري. د نوي هیواد د مشرتابه لپاره د اعتبار وړ ټاکنو ترسره کول، د ملي یووالي مشروعیت لپاره اړین دي او لکه څنګه چې په ټوکیو کې روښانه شوه د دوامداره نړیوال ملاتړ یوه مهمه برخه ده.

ولسمشر کرزي په مکرر ډول او په عامه توګه د اساسي قانون د مهال ویش سره سم ټاکنو ته خپل پر ژمنې باندي ټینګار کړې دی، چې معنی یې په ۲۰۱۴ کال کې د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره کیدل دي. هغه پر دې هم ټینګار کړی دی چې هغه به د دولت د مشر په توګه د دوو دورو څخه زیات موده د اساسي قانون تصریح شوی بندیز مراعات کړي.

د ټوکیو چوکاټ یو شمیر شاخصونه تصریح کړل، چې د جولای د میاشتې په ۲۷ نیټې د ولسمشر په فرمان کې ورباندي ټینګار شوي دی، د ټاکنو څخه مخکې د چمتووالي ګامونو په اړه خوځښت چې اوسمهال قوت اخلي. د مشرۍ دا ډول وخت په افغانستان کې بې ساري دی. که چیرې په رغنده توګه وکارول شي دا کولای شي د راتلونکې ټاکنو بشپړتیا او اعتبار خورا لوړ کړي.

زه په دوامداره توګه د راتلونکي ټاکنو پروسې په اړه د ټاکنو، خپلواکو ټاکنیزو ادارو او د ټاکنو د رسنیو پوښښ لپاره د لا ښه قانوني چوکاټ په ګډون، پراخې مشورې او پیاوړي عامه بحث هڅوم. دا داسې ټول شموله

دی چې به د ټاکنو او د هغې د پایلو شفافیت، بشپړتیا او د پایلو منلو ډاډمن کولو کې مرسته وکړي. په ورته وخت کې دا د یو معین شوي مودې پورې تړلی بهیر دی او د ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا د رای ورکوونکو د نوم لیکنې په اړه مهمې پریکړې، چې له تیرو ستونزو او ناسم کړنو څخه به درس واخلي او دا به ډاډ ترلاسه کړي چې ټول د رایو ورې رایه ورکوونکي وګړي به ژر تر ژره د راپې ورکولو فرصت ترلاسه کړي، لکه څنګه چې د حکومت او تمویل کوونکو لخوا د یو څرګند ملاتړ اړتیا لیدل کیږي. ملګري ملتونه به د افغان چارواکو لخوا د نیول شویو پریکړو ملاتړ وکړي چې د ټاکنیزې پروسې پایښت، بشپړتیا او ټول شمولیت کې مرسته کوي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون قوي او باوري مشرتابه او د دوی لخوا د ټاکنو چمتووالي یو بل حیاتي اړخ دی. د لوړ پوړو ټاکنیزو چارواکو په ټاکلو کې د احتمالي نوماندانو په اړه پراخه مشورتي پروسه اړینه ده چې په سیاسي ډګر کې درناوی او د منلو وړ وي. همدارنګه د شخړو د حل په وروستي میکانیزم کې روښانه هوکړه او پراخ منل، مهمه ده.

ښاغلی رئیس،

پراخه پخلاینه د ماموریت له لومړیتوبونو څخه یو دی. موږ په یوناما کې، او د ملګرو ملتونو پراخه کورنۍ کې، د غوښتنې سره سم د افغانانو په مشرۍ د پروسې ملاتړ ته چمتو یو. موږ د سولې عالي شورا سره په خپل کار کې مرسته کوو او د ټولو اړوندو خواو خبرو اترو او ښکیلتیا په لټه کې یو. ښځې د سولې او پخلاینې په پروسه کې، د سولې شورا په مشرتابه کې د استازیتوب په ګډون، د مساوي ونډې غوښتنه کوي.

د سوله ایز او باثباته افغانستان په اړه د ملي هوکړې د جوړولو لپاره د مناسب چاپیریال رامنځته کول زموږ د لومړیتوبونو څخه دي. د دې برخې په توګه موږ پلان لرو چې د دوهم ټرک (Track II) او بین الافغاني خبرو اترو ملاتړ وکړو ترڅو د هیواد د راتلونکي په اړه بحث کې د مدني ټولنې او پراخو سیاسي ځواکونو سره مرسته وکړو. د سولې او پخلاینې په برخه کې پرمختګ لیدلو لپاره د مخ په زیاتیدونکي بیړني حالت په پام کې نیولو سره، د سفر بندیز طرزالعمل احتمالي بیاکتنه زه ګټور ګڼم، پداسې حال کې چې د امنیت شورا د ۱۹۸۸ پریکړه لیک، او د امنیت شورا اړوند پریکړه لیکونو او د بندیزونو رژیم ته په بشپړ ډول درناوی کوم. دا ډول بیاکتنې کولای شي د هغو حکومت ضد ځواکونو خوندي تګ راتګ او سفر نور هم اسانه کړي کوم چې په صادقانه توګه غواړي د پخلاینې په موخه په اړیکو، بحثونو او خبرو اترو کې برخه واخلي.

ښاغلی رئیس،

د استانبول پروسه - چې د افغانانو لخوا رهبري کيږي، د سيمې په مالکيت او د نړيوالې ټولنې لخوا ملاتړ کيږي - موخه يې د سيمه ايزې همکارۍ د ملاتړ لپاره د ډيرو ارزښتناکو هڅو لپاره د لا زيات همغږۍ راوستل دي. زه د استانبول پروسې د دوامداره خوځښت او د اړونده سې بې ام، کاري ډلو د فعاليتونو د تدريجي پيل هرکلی کوم. د دې نوښت په زړه کې دا درک شته چې په افغانستان کې د سياسي، امنيتي او اقتصادي ثبات ملاتړ د هغه د ټولو ګاونډيانو او سيمې په ګټه ده.

د راپور ورکولو په دې دوره کې ما قزاقستان، روسيې فدراسيون او قرغزستان ته کاري سفرونه درلودل او يوازې څو ورځې وړاندې په آسيا کې د متقابل عمل او باور جوړونې اقداماتو په اړه د وزيرانو کنفرانس لپاره د آستانې په ښار کې وم. زه د افغانستان سره د اوږد مهاله ژمنې په اوريدو سره وهڅول شوم.

زه د سيمه ايزو سازمانونو، په ځانګړې توګه د شانګهاي د همکارۍ سازمان او د ګډ امنيتي تړون سازمان د افغانستان او سيمې د ګټو لپاره د افغانستان او يوناما سره د يوې منظمې ډيالوګ کې د ښکيلتيا لپاره د راپيدا شوی ليوالتيا هرکلی کوم.

ښاغلی رئيس،

په سمه توګه، د افغانستان د سياسي، امنيتي او پرمختيايي ځان بسياينې د رامنځته کولو په خاطر د اوږدمهاله پلانونو او ژمنو د ډاډ ترلاسه کولو باندي تمرکز شوی دی. که څه هم سمدستي اړتياوې هم شتون لري.

د افغانستان د نفوس له دريمې برخې څخه زيات د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي. د پنځو کلونو څخه کم عمره په هرو دوو ماشومانو کې يو يې خوارځواکي سره مخ دی چې د نيمايي څخه ډير د ټول ماشومان د ودې مخه نيسي. همدارنګه د انفرادي تراژيدي په څېر دا د هېواد راتلونکي بشري پانګې لپاره جدي اغيزه ولري.

د کال په پيل کې د سيلابونو په ګډون، طبيعي پيښې ببېړنې اغيزې درلودا، خو په هغه هيواد کې چې د اوږدمهاله بشري اړتياو او لسيزو جګړو څخه ځوريږي، د هغه راتلونکي انعطاف هم کمزوری کوي. د يو مثبت يادونې په توګه، د کال په پيل کې د واورې ورښت تر ټولو زيات زيانمنېدونکو وګړو باندي ناوړه اغيزه وکړه، خو د تيرو ۳۵ کلونو راپديخوا د دوهم ستر کرنېز محصولاتو لامل شو: ۶.۳ ميليون ميټريک ټنه محصولات چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۴۲ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د ۲۰۱۲ کال لپاره د ملګرو ملتونو ګډه غوښتنه د بشري چمتووالي او غبرګون په هدف، ۴۳۷ میلیون ډالر سنجش او غوښتل شوې. زه لدې امله مایوسه یم چې د کال په لومړیو اتو میاشتو کې د یاد شوي غوښتنې یوازې ۳۷ سلنه ځواب ترلاسه کړی دی.

ښاغلی رئیس،

د ۲۰۱۲ کال د کوکنارو د له منځه وړلو ارقام نهایي شوي چې په ۱۸ ولایتونو کې ۹،۶۷۲ هکتاره ځمکه ویجاړه شوې، چې دغه شمېره د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۱۵۴ سلنه زیاتوالی ښکارندوی دی. د والي په مشرۍ د مخدره توکو سره د مبارزې دا هڅې کورنیو چارو او دفاع وزارتونو لخوا ملاتړ هم ترلاسه کړی دی.

د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د یوې جامع او ځو اړخیزې اجنډا په ښه توګه ترویجول، څرنګه چې د مخدره توکو پر وړاندې د ټولیز او یو بل سره تړلي عمل، چې د څارنې په میکانیزم کې ورباندی هوکړه شوې، خو اوس د دغه مخ په زیاتیدونکي خطرناکې بلا سره د پیاوړي مبارزې غوښتنه کوي ځکه چې اوسمهال د افغانستان د پولو هاخوا هم اغیزې یې ترسترګو کیږي.

ښاغلی رئیس،

په یوناما کې، د ملګرو ملتونو د پراخه کورنۍ سره یوځای، موږ کار کوو چې هغه فعالیتونه لا ګړندي او ورباندي تمرکز وکړو، کوم چې تل بدلیدونکي امنیتي او سیاسي چاپیریال د ننګونو سره مخ کوي،.

یوه ژوره انتقادی بیاکتنه اوس مهال روانه ده چې د لومړۍ ځل لپاره د یو ځانګړي سیاسي ماموریت لخوا ترسره کیږي. د ښو هڅو، سیمه ایزه همکاري او د ټاکنو لپاره ملاتړ، سوله او پخلاینه؛ د بشري حقونو په اړه یو بې طرفه غږ او ملاتړ، د ښځو او ماشومانو د حقونه په ګډون؛ او د منسجم پرمختګ او بشري مرسته هڅول، چې د یوناما د ماموریت د ترسره کولو په زړه کې قرار لري، او زه فکر کوم چې وروسته له ۲۰۱۴ کال څخه، د افغانستان حاکمیت ته په درناوی سره، هم ترسره کړي.

د یوناما د نهو ساحوي دفترونو د تړلو سره سره، یوناما لاهم په ملي کچه رسیدګې باندي ټینګار کوي او په ټول هیواد کې به خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. ما پخپله په دې ربع کې د اوو ولایتي مرکزونو څخه لیدنه وکړه. په دغو کې دوه ولایتونه، ارزګان او غور، په داسې حال کې چې یوناما به نور خپل دایمي فزیکي شتون هلته ونه ساتي، خو موږ خپل ساحوي دفترونه د ملګرو ملتونو نورو ادارو ته، لکه د ملګرو ملتونو د پروژوی

خدمتونو دفتر ته وسپارل. د لیږد په جریان کې د یوناما په کلیدی فعالیتونو باندې تمرکز زیاتوالی، د ۲۰۱۳ کال لپاره د بودیجې د سخت کمښت باوجود شرایطو کې ترسره شي.

اساساً لرې سرچینې پدې معنی دي چې یوناما لږ څه ترسره او وړاندې کولای شي، زه بل ډول ګمان نکوم. که څه هم، د ستراتیژیکو ګزینو لپاره موږ به د افغان چارواکو لپاره د خپل ماموریت په لومړیتوب لرونکو برخو کې، د هغوي په ملاتړ تمرکز وکړو تر څو اعظمي اغیزې ډاډمن شي.

ښاغلی رئیس،

زه د ننګونو په اړه صادق یم، کوم چې ډیری دي.

مکرراً زه یو ځل بیا ټینګار کوم چې د افغانستان او نړیوالې ټولنې ترمنځ د ټینګو متقابلو ژمنو څخه هڅول شوی یم. اوس موږ به په ګډه یوه ضروری دنده لرو، دا چې ژمنې په عمل بدل کړو.

موږ په څرګنده توګه د وروستي هدف؛ د افغانستان د خلکو لپاره د لا زیات ثبات او سوکالۍ باندې، په روښانه ډول سره تمرکز لرو.

ستاسو د پاملرنې څخه مننه.